# انجمن اصلاح افاغنه او جدید سماجي تنظیمونه (یوه تقابلي جائزه)

**Anjuman-e-Islah Afaghina & Modern Social Organizations**
**(A Comparative Analysis)**

محمد اقبال شاکر *

**Abstract:**

Pashtun society, which was manifested by feudism, moral evils, social injustice and economic bankruptcy, some hundred years ago, has been lucky enough to see Khan Abdul Ghaffar Khan (Bacha Khan Baba) as its savvier, Bacha Khan Baba with the assistance of his friends laid the foundation of Anjuman-e-Islahul Afghania (A Social organization) on modern and scientific lines in the dark ages of a brutal society to uplift the people socially, morally and economically through education and social activities. This organization was brought into existence by virtue of his philosophy of Non-violence. In course of events the Pashtun society altered, to some extent, from a savage into one of humanism as a result of this organization. The organization may, therefore, be given proper attention to actualize the dream of this noble soul of seeing Pashtun as socially, morally and economically uplifted people, and revered nation of the world.

**Keywords:** Anjuman-E-Islah Afghina, Pashtoon Society, Modern Social, Organisations.

سماجي تنظیمونه د معاشرتي ژوند په معیار لوړولو کښې له پخوا راهسې ډېر لوئی کردار ادا کوي - د پښتنې معاشرې غوبل ، اشراو د غم ښادی په وخت د کلي کلوېغی او روری عزیز ولی د یو بل سره شریک کار کول په اصل کښې د سماجي او معاشرتي تنظیم یو Informal شکل دی - د پښتنې معاشرې د هر فرد او وګړي ذهن په دې خبره جوړ دی چې "یواځې خو خدائی ښۀ دی"د سماجیاتو په جدیدو علومو کښې د تنظیم او معاشرتي اتفاق په حواله ټوله دنیا دې نتیجې ته رسېدلې ده چې اشتراک عمل لوئی لوئی ستونځې هوارولی شي -

دلته زۀ مناسب ګڼم چې د تنظیم او جدید تنظیم د اهمیت او غرض په حواله یوه خبره رانقل کړم -

"Organization Play a central role in our lives in the present day. An Organization can be difined as a large association of people, set up to achieve specific objectives" (1)

کله چې په معاشره کښې بې علمي وده اومومي نو جاهلیت لکه د تورې بلا کومی واز کړي او ټول معاشرتي اقدار چې د رورولی، اخلاقو، سماجي انصاف او اجتماعي ژوند په ستنو ولاړ وي سر

* Lecturer (PhD scholar UoP)، Government Degree College Batkhela

اوخوري - تربګنی، دشمنی، اخلاقي برایی، او معاشرتي بې انصافی، عامې شي - معاشي سرګرمی، په ټپه اودرېږي، ځان ځاني او ځان اساني د قام وطیره شي قامي عزت نفس د پستی، ګرنګونو ته ارتاؤ شي او د قوم منزل ورک شي - د دوېم جنګ عظیم نه لږ پس چې باچا خان او د هغه ملګري د قام د مذهبي، معاشي او معاشرتي پستی، غم راغستې وو ځکه چې پدغه ورځو کښې په پښتنو کښې ډېرې زیاتې اخلاقي برایی، او ناوړتیاګانې پېدا شوي وې لکه شوکې ډاکې، بتهېر بازي د یو بل په زمکو جائیدادونو قبضې کول - په لوبو کښې ډېر وختونه صرف کول او بیا پکښې فضول خرچی، او دشمنی، کول، ډم بازي ، د تعلیم او خپلې ژبې نه لرې والی، کار کسب ته سپک کتل ، اسخات، تجارت ته سپک کتل، پیرپرستي او نشې تماشې پدې حقله فضل رحیم ساقي صېب وائي-

"(د خدائي خدمت ګار د تحریک شورو کېدو نه وړاندې د پښتنو اخلاق هم هغه هومره غورځېدلي وو لکه چې د جاهلیت دور کښې د عربو وو) -

لارې شوکول: یو سړی په لاره تلو شوکمار ورله راپاسېدل د ده تالشي یې واغسته چې پرتوغاښ پورې یې د یوې روپی، پشان څه تړلي وو - دوئې ترې اغستل او هغهٔ نهٔ ورکول نو حلال یې کړو- چې غوټه یې پرانیسته نو ډبله پیسه یې پکښې تړلې وه)" ( ۲ )-

په دغه وخت کښې بې تعلیمي او کار کسب ته سپک کاتهٔ د پښتنو په طبیعت کښې داسې شوي وو لکه دا چې د دوي په وینه کښې شامل وي- او دغه دوه خامی، د اولس او قام د پستی، د پاره داسې دي لکه سړی چې مردار بوټیي ته څره اچوي -

"(تعلیم: مذهبي تعلیم به اکثر غریبانو خلکو کوو او د سکول کالج د تعلیم ملیان برخلاف وو- دا مثال وو چې سبق د مدرسې وئي د پاره د پېسې وئي جنت کښې به ځائی نهٔ وي دوزخ کښې به غوپې وئي- دا فتوا یې هم مشهوره کړې وه چې کوم پلار ځوئی د ګوټې ونیولو او مدرسې ته یې بوتلو نو دواړه دوزخیال شو- اکثر خلک بې علمه وو-

کار کسب:	کار کسب ته به خلکو سپک کتل خو شې ګرځېدل ورته ښهٔ ښکارېدل په حجرو کښې به ټوله ورځ اوزګار ناست وو - جولا چې د یو قوم بنیادي ضرورت یې پوره کولو ، ملیانو ورپسې د کتاب نه د سپکاوي مسئلې راوویستې او ټوق مارو به ورپسې ټوقې جوړولې او په لویو مجلسونو کښې به یې جولا شرمولو- دغه کسب ورک شو او ټول خلک د فرنګیانو کار خانو ته کېناستل) (۳)-

پیرپرستي عام وه لکه اوس چې هم دغه څهٔ د دروغو پیر خانې د غریب ، جاهل او ناخبره اولس د وینې او خولې په ګټه چلېږي او د بااثرو خلکو عیاشیانې په دغه نزرانو او چندو انحصار لري -

اسخات چې چرته هم یوه مذهبي خبره نهٔ ده عام وو، خلکو به قرضونه او سودونه کول او د اسخات او خېرات اهتمام به یې کوو ګني مړی به یې نه بخښلی کېدو -

"(اسخات: د مړي کور به په وړمبۍ ورځ تالاشو د کفن سره به مليانو له د سان مصلې هم راغلې، د اسخات ګوړه، صابون ، نقدې پېسې به د جنازې نه پس ويشلې شوې که خپلې به چا کره نۀ وې نو په سود به يې اغستلې تر جمعې پورې به هره شپه ديګونه باندې وو د مړي کټ به خلکو هله اوچتوو چې لس اته ديګونه به باندې شو، ځاروي به حلال شو، د څلوېښتۍ پورې به جمعه په جمعه او د څلوېښتۍ په ورځ چې به ديګونه د وريژو او حلواګانو پاخۀ شو نو مليانو به ارواح هله نورو ارواح ګانو سره شريک کړو- نوي نوي پڼې به يې په پښو کړې، نوي پټکي به يې په سر کړل، نوي جامې به يې واغوستې بيا به کال په کال يو لوئی خېرات په مړي پسې کېدو، کونډې او يتيمان به يې خواروزار شو)(۴)

(پير پرستي: اخلاقي کمزورۍ پير پرستۍ ته څملولي وو د پيرانو لنګرې ټولې د دوئ په دولت چلېدې - بغېر د يو څو پيرانو نه نور اکثرو پيرانو د پيرنګيانو د حکومت نه هم د لنګرو د پاره وظيفې حاصلولې او مريدانو به يې په فخر وې چې زما د پيرد کرامت فرنګيان هم قائل دي- د دوي اولاد مياګانو خو په هر چا فصلانې مقرر کړې وې-(۵)

اوس چې په يو قوم کښې بې ديني، بې تعليمي، بې ځايه مقدمې، اخلاقي پستي، جنګ جګړې او معاشي پسته حالي دومره عام شي ، رياست د اغيارو په قبضه کښې وي د خبرې خلک خرڅ وي نو بيا هم د الله رحم په خپل ځائی موجود وي، په قوم کښې د زړۀ درد لرونکي خلک راپېدا شي، قام راويخ کړي، هلې ځلې شورو کړي او د خپلې برخې کار او زيار اوکړي، که نور هېڅ اونه شي خو خدائی، خاورې او تاريخ ته خو يې غاړه ازاده شي - لکه د خدائي خدمتګارۍ مشرانو دا اندازه ولګوله چې د مذهبي او دنياوي تعليم وتربيت د کمي له کبله په معاشره کښې دغه خامۍ او کمۍ پېدا شوې دي او څنګه چې د يو سماجي تنظيم د قيام د پاره جواز، مرام او مقصد ټاکلی کېږي دغسې د پښتون قام د اولسي بېدارۍ دغه کدائي خدمتګارانو ملا اوتړله او د يو تنظيم د قيام فيصله يې اوکړه چې دغه موجوده مدرسه به يو مرکزي حيثيت لري او د دې نور شاخونه به په ټوله صوبه کښې پرانيستی شي، دا خبره هم اوشوه چې د غېر شرعي رسوماتو، بدعاتو، د بې ځايه مقدمو، جنګ جګړو او سماجي ستونځو هوارولو د پاره به هم هلې ځلې کولی شي، او په دغه هيله چې پښتانۀ په سمه لار روان شي ، تعليم يافته شي، د خدائی او رسول صلي الله عليه وسلم د لارې نه خبر شي، په اتفاق شي ، اسوده شي، حلال خوراۀ شي ،او معاشرتي ژوند معيار يې لوړ شي - يو تنظيم جوړ کړی شو چې نوم يې ورله انجمن اصلاح افاغنه کېښودو-

په دې حواله علي خان محسود په خپل تاليف "له پير روښانه تر باچا خان پورې د پښتنو مبارزې ته کتنه" کښې وايې

"باچا خان ورستو خپل سیاسي ژوند کښې زیاته توجه معاشرتي مرضونو ختمولو ته ورکړې ده - چې ورمعلوم وو چې دغه بنیادي کار دی - د دې ګډوډۍ په وجه پښتون کور د تشدد کور جوړ شوی ؤ- فرنګي او هندوستاني نوره لمن ورته وهله، مېلو کښې به جګړې وې، په زمکو به مرګونه وو، چې پښتون په څه ګټل د تانېدار، وکیل او کچرو دوا به شول ، دی به د خپل تشدد په وجه بربنډ پاتې شوی وو، باچا خان پخپله لیکي! چې د دې سره پښتنو کښې دروغ او چغل خوري مرضونه راغلل چې مخکښې په دې پېمانه نۀ وو یعني د باچا خان په ځوانۍ کښې پښتون قوم سیاست نۀ درلود، نۀ یې اقتصاد وو، او معاشرتي توګه توړ پهوړ سره مخامخ وو، او لنډه خبره داده چې د مرضونو جاله جوړه شوې وه" (۶)-

باچا خان او د هغۀ ملګري د یو قامي او اولسي فکر خاوندان وو هغوئ د خپل چاپېرچل اصلاح په پرامن طریقه او د تعلیم په زور په زړۀ اخستې وه - ځکه چې تعلیم او امن لازم ملزوم دي او هم په دغه لاره د یو قام ترقي ،خوشحالي او سوکالي ممکنه کېدی شي - قامونه د تعلیم په زور د قامونو سیالي کولی شي او چې کله تعلیم عام شي نو د معاشرې هر فرد خپله ذمه واري او حقونه اوپېژني - د حقونو او ذمه وارو د پېژندلو توازن یوه خوشحاله سوکاله او مخ په ترقۍ معاشره جوړوي - پښتون په بنیادي توګه ترقي پسند ، امن پسند او اعتدال پسند قام دی - خو که چرې صحیح لارخودنه یې اوشي - باچا خان د دې اولس سره د ښېګړې د پاره دغه سماجي تنظیم انجمن اصلاح افاغنه جوړ کړی وو - او د امن او تعلیم په ذریعه یې د دغه تنظیم د لارې د قام اصلاح مقصد وو - په دې حقله ډاکټر شبېر زمان سیماب وائي -

"باچا خان چې د یو اولسي فکر خاوند وو او سماجي شعور یې لرلو د خپل اولس د خېر ښېګړې سره یې د هغوئ د اصلاح او تعلیم طرفته هم پام لرنه کولۀ او په دې سلسله کښې یې انجمن اصلاح افاغنه تنظیم جوړ کړو او بیا یې د دغه تنظیم د سیوري لاندې د ډېرو لویو ملګرو په مرسته د ازادو سکولونو بنیاد کېښودو-" (۷)

اوس چې زۀ د دغه انجمن اغراض و مقاصدو، دستور او کار ته ګورم نو دجدید دور تنظیم سازي او د هغې کار او پروګرام بیخي د انجمن اصلاح افاغنه پشان دی - نو په دغه دور کښې چې د ابلاغو ذریعې لکه د نیشت برابرې وې پښتانۀ مشران د تنظیم سازۍ په سائنسي طریقه څومره ښه پوهېدل - زۀ پخپله د یو ادبي سماجي تنظیم مرستیال لیکوال "مل" ملاکنډ غړی یم دا تنظیم د حکومت سره رجسټرډ دی - د رجسټرېشن په مرحله کښې چې مونږ ته د کومو ثبوتونو او تنظیمي دستاوېزاتو ضرورت وو نو چې زۀ د انجمن اصلاح افاغنه دستاویزاتو، اغراض ومقاصدو ، غړیو او آئین دستور ته ګورم نو سل کاله مخکښې پښتنو مشرانو د خپل تنظیم د پاره هم هغۀ شان کار کړی وو- زما په

خیال دغه وخت د سماجي تنظیمونو په سائنسي بنیادونو جوړېښت دنیا په داسې انداز کښې نۀ پېژندو

لکه څنګه چې د یو سماجي تنظیم د قیام اولنۍ پړوۍ د هم خیال ملګرو راغونډېدل- د هغوئ په یوه اېجنډه او لائحه عمل متفق کېدل ،او بیا په شریکه د دغه تنظیم آئین سازي او طریقه عمل وضع کول وي- د انجمن اصلاح افاغنه بنیاد هم په دغه سائنسي او د سماجي تنظیمونو د اوسني طریقه کار په بنیاد کېښودلی شو - په دې حقله فخر افغان باچا خان په شهره آفاق کتاب "زما ژوند او جدوجهد" کښې فرمائي.

"مونږ په ۱۹۲۱ ع کښې د دوستانو په امداد په اتمانزو کښې د ازاد سکول بنیاد کېښودو چې په دې سکول کښې قاضي عطاالله ، میا احمد شاه ، حاجي عبدالغفار خان ، محمد عباس خان ، عبدالاکبر خان اکبر، تاج محمد خان، عبدالله شاه ، او خادم محمد اکبر، زما ملګري وو- د مدرسی ترڅنګه مونږ د پښتنو د غلطو رسمونو او رواجونو د اصلاح کولو، د تشدد نه د منع کولو، او پکښې د قامولۍ د مینې او محبت د پېدا کولو په غرض د اصلاح افاغنه په نامه یو انجمن جوړ کړو - د دې انجمن ممبران دا کسان وو- (۱) محمد عباس خان (۲)صدر عبدالغفار خان (دواړه د اتمانزو) (۳) حاجي محمد اکرم خان د خانمائي (۴) جمعدار نور محمد خان(ترنګزو) (۵) محمد زرین خان د ترنګزو (۶) عبدالاکبر خان د عمرزو (۷) غلام محي الدین خان د تنګي (۷) فخر قوم میا صاحب (۹) میا جعفر شاه د زیارت (۱۰) فضل اکرم د نرۍ قلعه (۱۱) فضل ربي د بدرګی (۱۲) میا احمد شاه د قاضي خېلو (۱۳) میا عبدالله شاه (۱۴) خادم محمد اکبر د چارسدے (۱۵) تاج محمد خان د چارسدے (۱۶) مولانا شاه رسول د امازو ګهړۍ (۱۷) شاد محمد خان د میرزو (۱۷) شېر بهادر خان د کوترپاڼ (۱۸) جلیل خان د جلیل (۱۹) خوشحال خان د باریکاب (۲۰) شاه پسند خان د چارغولۍ (۲۱) امیر ممتاز خان (۲۲) بېرسټر محمد جان د بنو (۲۳) محمد رمضان د ډیرو (۲۴) حکیم عبدالسلام د هري پور (۲۵) میا صاحب د پکلۍ (۲۶) قاضي عطاالله د مردان (۲۷) ثمین جان خان د محب بانډے (۲۸) علي اصغر خان وکیل د هزارے (۲۹) افندي صاحب د ملاکنډ (۳۰) یو ملګری د ګدر حمزه خان " (۸)

او بیا د دغه مشرانو انجمن اصلاح افاغنه د غړیو په کوششونو ، زیار او کړاؤ د انجمن آئین سازي هم وشوه -

"د دې انجمن نوم انجمن اصلاح افاغنه (سوشل اپ لفټ) اوټاکلی شو، زۀ میا احمد شاه صاحب او خادم صاحب یې د انجمن د قواعد وضوابطو او اغراضو مقاصدو لیکلو د پاره اوټاکلو مونږ لسو دولسو ورځو کښې دا اغراض و مقاصد ، قواعد وضوابط جوړ کړه (دا یو قسم آئین وو)-

(۱)- د دې انجمن نوم به انجمن اصلاح افاغنه وي يعني د پښتنو د اصلاح جرګه
(۲)- د دې فيصله به په اکثريت وي-
(۳)- د دې انجمن به باقاعده عهدېداران وي -
(۴)- باقاعده حساب کتاب به ساتي او سالانه رپورټ به پېش کوي -
(۵)- د دې انجمن د دفتر مقام به د ممبرانو په مرضۍ وي -
(۶)- د دې جرګې به يوه مجلس شوریٰ وي چې د هغې د ممبرانو تعداد به تر پنځو سو وي-
(۷)- د مجلس شوریٰ اجلاس به پنځلس ورځو کښې يو ځل ضروري وي -
(۸)- مجلس شور یٰ ممبران به د جرګې او مدرسې د اخراجاتو ذمه وار وي -
(۹)- عام چنده به لکه د نورو جماتونو د چانه نۀ جمع کوي -
(۱۰)- هر د شوریٰ ممبر به کم از کم پنځوس روپۍ سالانه چنده ورکوي -
(۱۱)- په کلو کښې مقامي اصلاحي جرګو کښې به هغۀ کسان اخستی شي چې زمونږ منشور سره اتفاق لري - بې پرې جنبې وي د قچرو مقدمو پخپله ځان ساتي ، د پيرنګيانو د پاره کار نۀ کوي ، پښتو ژبې او پښتنو سره يې مينه وي -
(۱۲)- دا جرګه به د پښتو ادب په خاطر په کال کښې يو ځل په اتمانزو کښې د ټولې صوبې شاعرانو له د مشاعرې او په سالانه جلسه کښې د شموليت دعوت ورکوي -
(۱۳) - دا جرګه به د اولسي شاعرانو حوصله افزائي کوي او ناچارو سره به حسب توفيق مدد کوي -
(۱۴) - دا جرګه به يو اخبار يو رساله هم جاري کوي که اجازت ورکړی شو -
(۱۵)- د دې جرګې به يو صدر ، دوه نائب صدران، يو جنرل سيکټر او يو نائب سيکټر يا ناظم او خزانچي وي -
(۱۶) - د مدرسو د امتحانونو د پاره به يو انسپکټر وي يا ممتحن وي )" - (۹)-

اوس که مونږ د انجمن اصلاح افاغنه دغه دستور يا قواعدو جوابطو ته اوګورو نو دا د يو کوټلي او پوره تنظيم ټول ضرورتونه پوره کوي - لکه د جمهوريت خيال پکښې هم ساتلی شوی دی - د حساب کتاب او احتساب د پاره پکښې هم ښۀ واضحه کړنلاره موجوده وه - د اجلاسونو د ضرورت په خاطر ورله باقاعده وخت مقرر شوی وو- د مالياتو يو ښۀ نظام جوړ کړی شوی وو - د ممبر سازۍ طريقه کار او څوک به د ممبر جوړېدو اهل وي د پاره پکښې اُصول هم ټاکلي وو- د ادبي هلو ځلو کار يې هم متعين کړی وو- د شاعرانو اديبانو د مرستې او تعاون نظام پکښې هم وو - د نشرواشاعت او اخبار

رسالې خبره پکښې هم وه، او د دې نه هم خبر وو چې که حکومت اجازت اوکړو نو هله به اخبار یا رساله اوباسي ، د مدرسو د امتحانونو د پاره پکښې هم یو ممتحن یا نظام موجود وو -
په دغه قاعدو او ضابطو کښې څه نورې خبرې هم وې چې دلته د هغې حوالې ورکول ضروري دي -
"د مدرسو نصاب تعلیم : د انګرېزي ، حساب ، تاریخ ، جغرافیې ، اُردو سره به دینیات او کسب ګري لازمي وي -
ذریعه تعلیم به پښتو وي
د سیاسي ، معاشرتي ، اقتصادي ، دیني خیالاتو د اظهار به استاذ شاګرد ته آزادي وي - چې بغېر د تعصب د خپلو خیالاتو اظهار کوي - (د دې د پاره په هفته کښې دوه ګنټې وخت مقرر کړی شوی وو- تقریرونه به کېدل ، مباحثې به کېدې هغې داسې مبلغان پېدا کړۀ چې په ټوله صوبه کښې خوارۀ شو او د ۱۹۳۰ انقلاب د هغې نتیجه وه ) -
هر هلک او هر استاذ به د ملک اودلې شنډېنه خامتا اغوندي"- (۱۰)
اوس که مونږ د دغه انجمن اصلاح افاغنه د سېوري لاندې د مدرسو انتظام ته راشو نو د هغې نصاب انګریزي ، حساب، تاریخ، جغرافیه ، اُردو دینیات او کسب ګري یعني (Technical Education) ځومره د قدر وړ دی - د استاذانو او هلکانو د وردۍ(Uniform) تعین پکښې هم شوی وو - او د اظهار رائې د جدیدو تقاضو سره یعني د نن دور د تقاضو سره سم طریقه کار او قاعدے پکښې موجودې وې البته که جدید دور د تعلیمي نظام، قواعد وضوابو په حواله ورته اوکتی شي نو صرف جینکۍ پکښې نۀ وي ، او هغۀ د هغۀ وخت د معاشرتي ژوند عین مطابق خبره وه -
دا خو وو د دغه انجمن طریقه کار ، دستور ، اغراض و مقاصد او قواعد وضوابط چې د پښتنو د هغې وخت د سماجي اقتصادي او اخلاقي ژوند د تقاضو عین مطابق وو - خو اوس راځو دې له چې دغه انجمن د خپلو اغراضو مقاصدو په پوره کولو کښې څومره کامیاب شوی دی -
د انجمن مشران کلي په کلي ګرځېدلي دي او اصلاحي کمیټۍ او مدرسې یې جوړې کړي دي - دلته ترې یو څو زۀ د حوالې د پاره وړاندې کوم -

"ترنګزي، عمرزي، شېرپاؤ ، تنګي، کتوزي، میرزي، سریخ ، کانګړه، ترناب، دلدارګړۍ، چینه، چارسده، غونډه، کرکڼه، زرین آباد، سخا ډهنډ ، مناف خان کلی، خادي کلی، ګل آباد او د تحصیل مردان دوره ما، خادم صېب، مولانا شاه رسول او صاحبزاده خورشېد صېب، د ادینه کړې وه - دا ټول مزل به مونږ پیاده کوو په دې علاقې کښې د حاجي صېب د وختو ګدر مدرسه هم وه بیا مونږ هغې له ترقي ورکړه - په ادینه بر کړۍ، نوي کلي ، رستم ،

تولاندی، ګړياله، مانيرئ ، بام خېل، مرغز کښې مو اصلاحي کميټۍ او مدرسې جوړې کړې" - (۱۱)

انجمن اصلاح افاغنه د هغهٔ وخت د ضرورتونو او قامي نفسياتو مطابق خپل کار ښهٔ د زړهٔ نه کړی دی - خو دا ضروري نهٔ ده چې يو تنظيم ، پارټي ، ګروپ يا يو کس دې خپل اغراض ومقاصد سل په سله حاصل کړي - د انجمن اصلاح افاغنه د مشرانو کار اولس د خپل منصب خبرول وو او هغوئ په دې کښې د ډېره حده پورې کامياب شوي وو -

د انجمن اصلاح افاغنه کار او د کارنامو په باره کښې ارواښاد ډاکټر اشفاق احمد وطنيار په خپله مقاله (د پښتو ادب په ترقۍ کښې د پښتون رسالې کردار) کښې وائي -

"د انجمن اصلاح افاغنه د تاريخ د مطالعې او جائزې اخستو نه پس هر محقق ليکوال، اديب، دانشور او هر لوستونکی په دې خبره باندې ښهٔ پوهېږي چې د انجمن اصلاح افاغنه تنظيم بنياد د پښتنو په اصلاح باندې اېښودی شوی وو او د انجمن د سيوري لاندې يې د قام هر اړخيزې اصلاح ته په منظم ډول د قام خوا خوږو مشرانو ښهٔ په ايمانداری د زړهٔ د اخلاصه بڼې وهلې وې، مثلاً د جائيدادونو او پټو په مقدمو او دعوو باندې په پښتنو هسې عبث خپل وخت د انګرېز سامراج سرکار په عدالت کښې بربادولو- دغه مقدمې به تر کلونو په عدالت کښې روانې وې- چې آخر به خلق د معاشي ستونزو سره مخ شول او خبره به اکثر تر مرګ او ژوبلې پورې ورسېده - ولې سرکار د خلقو مسئلې هوارول نهٔ غوښتل، او په دې وجه د پښتنو په سيمه کښې ناحقه قتلونه کېدل - چې په نتيجه کښې يې د پښتنو په معاشره کښې د نااتفاقئ ناسور خور وو او د دې طاقتور او مېړني قام قوت هم ورسره کمزوری کېدو - نو په دې وجه د انجمن مشرانو د ټولو نه اول د جرګو په ذريعه دغه قامي خدمت ته پوره پاملرنه اوکړه -

دغه شان د غم ښادۍ په موقع باندې هم بېځايه خرچونه د پښتنو يو عادت او رسم جوړ شوی وو - چې د پښتنو په مالي اړخ يې ډېر لوئی خراب اثر غورځولو - نو انجمن اصلاح افاغنه د پښتنې معاشرې په دې اړخ کښې هم د اصلاح کولو د پاره خپل کوششونه اوکړل - چې تر ډېره حده پورې په کښې کامياب شول - دغه شان د سپو ، غوايانو ، سنډاګانو، چرګانو او مرزانو په جنګولو د پښتنو ساعت تېري وو- نو د انجمن د خلوص ډکو کوششونو په اثر پښتنو خپل وخت د ورورلۍ عزيز ولۍ او د پښتونولۍ په احساس خپلو کښې د اتفاق او اتحاد د پېدا کولو په لار کښې تېرول شروع کړل او دغه وجه وه چې په ډېر لږ وخت کښې د پښتنو د ټولو قبيلو او خېلونو په خپلو کښې يوه بې مثاله ورورولي جوړه شوه -

پښتنو د جديد تعليم حصول ته نهٔ يواځې شا کړې وه بلکې د جديد تعليم د حصول خلاف په پښتنې ټولنه کښې عجيبه عجيبه خبرې خورې وې - نو په دې احساس د انجمن اصلاح افاغنه په پښتنو کښې

د جديد تعليم د حصول جذبې پېدا کولو د پاره په ځان شپه او ورځ يوه کړۀ، او په داسې خوږ او زړۀ راښکونکي انداز کښې يې د پښتنو فکر او پام د جديد تعليم حاصلولو طرف ته راوګرځولو چې د فيرنګي او د هغۀ د تالي څټو غلامانو په زړۀ يي يخې اوبۀ توئې کړې ،او د پښتنو په ټولو سيمو او علاقو کښې د مدرسو يو ډېر موثره جال خور کړی شو چې په نتيجه کښې يې د پښتنو تاريک ذهنونه د علم په رڼا روښانه شول-

دغه شان پښتنو ته خپله پښتو ژبه د اغيارو په پروپېګنډه دوزخي ژبه ښکارېده - ولې دا فکر او سوچ يې نۀ کولو چې د دوزخ نه څوک راغلي دي - چې هلته واقعي پښتو وئيلی کېږي - د انجمن سپېځلو مشرانو په ځان دا فرض اوګڼل- چې پښتنو کښې د خپلې ژبې پښتو سره مينه او محبت پېدا کړي - او د هغوئ د زړونو نه دغه د غېرو کېنولې وسوسې او وهمونه لرې کړي - نو که په يو اړخ يې په خپلو مدرسو کښې پښتو ژبه لاژمي کړه نو په بل اړخ يې د پښتو ژبې خدمت هم د خپل قلم په ذريعه شروع کړو -

> په دغه ورځو کښې خصوصاً په پښتنې ټولنه کښې کسب ګرو ته په ډېر سپک نظر کتلی شول دا هم دپښتون قام د وېشلو او وهلو د پاره د مغلو د زمانې نه راروانه پاليسي وه - چې فېرنګي سامراج ترينه هم په خپل دور حکومت کښې بې کچه فائده اخسته ، او د پښتو په ټولنه کښې يې په دغه تقسيم د نفاق او بې اعتمادۍ فضا پېدا کولو د پاره خپل ناوړو کوششونو ته دوام ورکولو - ولې دغه ټول ناوړه کوششونه د انجمن د کوششونو په وړاندې ناکاره او ناکام شول - د انجمن اصلاح افاغنه په سبب په پښتنې معاشره کښې د کسب ګرو او هنر مندانو قدر او يو مقام پيدا شو - په ټولنه کښې داسې خوږ او جامع تبليغ د دې د پاره شروع کړې شو چې خلقو دا واقعي محسوسه کړه چې کسب ګر زمونږ خپل پښتانۀ رونړه دي چې د هنر مندانو په اهميت د قام سترګې په حقيقت کښې بينا شوې" - (۱۲)-

د اشفاق احمد وطنيار صېب د دې حوالې په رڼا کښې دا خبره ثابتېږي چې انجمن اصلاح افاغنه د پښتون اولس د آګاهۍ ، تعليم و تربيت او قامي ذمه وارو او فرائضو نه د خبرولو کوم مقصد په خپل آئين او دستور کښې لرو نو د ډېره حده پورې په هغې کښې د دغه تنظيم مشران کامياب شوي وو - د سماجي لاندي باندي په حقله يې په پښتون قام کښې حساسيت پېدا کړی وو - د پښتون قام د سياسي او معاشي ضرورتونو آګاهي يې هم د څۀ حده پورې پېدا کړې وه - زما په خيال په دې دور کښې بيا د يو داسې فعال او مخلص ، سماجي تنظيم ضرورت دی چې د باچا خان او د هغۀ د ملګرو په شان مشران يې رهبري وکړي او پښتون اولس کښې چې کومې کمۍ ، کمزورۍ او سياسي سماجي نا آګاهۍ کومې بيمارۍ پرتې دي د هغې يو ځل بيا په سائنسي بنيادونو تشخيص اوکړي او د جديد

دور ابلاغو د زرائو او سوشل میډیا د لارې یې داسې علاج اوکړي چې پښتون اولس په هره خبره کښې دانۀ ویې چې !

ے "زما لویه ګناه دا ده چې پښتون یم"

بلکې په خپلو کمزریو هم قابو بیامومي -

## حوالې


-(۱)Giddens Anthany, Socialogy 4th Edition , Blackwell Publishing Ltd, 2004, P.370

(۲)- ساقي،فضل رحیم ،خدائي خدمتګار،(د پښتنو د ازادۍ د تحریک یو مختصر تاریخ) ، باچا خان ریسرچ سنټر پېښور ، ۲۰۱۲ - ص ۵۷

(۳)- هم دغه ،ص ۵۸

(۴)-هم دغه،ص ۵۸ ، ۵۹

(۵)- هم دغه ،ص ۵۹

(۶)- محسود ، علي خان ، له پیر روښانه تر باچا خانه پورې د پښتنو ملي مبارزې ته کتنه ، دانش خپرندویه ټولنه پېښور - ص ۳۶۰ - ۳۶۱

(۷)- سیماب ، شېر زمان ، ډاکټر ، د باچا خان د نثر لیکنو تحقیقي او تنقیدي جائزه ، پښتو نړیواله مرکه ، ۲۰۱۶، ص- ۲۲

(۸)- عبدالغفار ، زما ژوند او جدوجهد ، کابل دولتي مطبعه ، ۱۹۸۳، م، ص ۱۸۳ ، ۱۸۴

(۹) - اکبر ، عبدالاکبر خان ، د برصغیر پاک وهند په ازادۍ کښې د پښتنو برخه ، یونیورسټي پبلشرز پېښور ، کال ۲۰۰۹ ، ص ، ۶ - ۸

(۱۰)- هم دغه ، ص ۸ - ۹

(۱۱)- هم دغه ،ص ۲۳

(۱۲) - وطنیار ، اشفاق احمد ، د پښتو ادب په ترقۍ کښې د پښتون رسالې کردار ، پښتو نړیواله مرکه، کال ۲۰۱۶ ، ص ۱۵۵ ، ۱۵۶ ، ۱۵۷